M T W T F S عمر فاروق DATE:

# چاربیته

## 1. پېژندنه:

چاربیته د نظم یو صنف دے، د پښتنو اولسي شاعرۍ کښې د ټپې نه بعد چاربیته ډېر مقبول او زړه وړې صنف دے. دا هم ډېر زوړ صنف دے. چاربیته ډېر خوندور رنګ لري او د دې خپل وزن او اولسي اهنګ دے. په چاربیته کښې د نڅا ډېر طاقت پروت دے او پښتو ابه د رباب، ستار او منګي سره وئیلې کیږي. چاربیته هم د ټپې په شان نسل درنسل په پښتنو قام کښې راروانه ده.

## ۲. د چاربیتې څو غټې غټې نخښې:

دې کښې چستي او روانې ډېره وي. ددې سر یعنې مطلع اکثر قسمونو کښې دوه بحرونو او وزنونو کښې وي. څینې چاربیتو کښې د بند آخري د جوړ مصرعه چې سر سره هم قافیه کولې شي نو دغه مصرعه د مطلعې د دوهمې مصرعې سره هم قافیه کیږي. څه چاربیتو کښې د ۶، ۹ او 13 سېلاب لرونکو مصرعې هم وي.

## ۳. د چاربیتې موضوعات:

د چاربیتې څه مخصوص موضوع نه وي په دې صنف کښې قامي، ملي، وطني او تاریخي واقعات، مذهبي واقعات، زاړه واقعات، داستانونه، د جنګونو قیصې، د اجتماعي حالاتو تمدني رنګ، د عشق

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

M T W T F S DATE:

و محبت قیصي نیز د ژوند ترجماني او د ژوند د غم
الوځ اظهار پکښې کولئ شي۔

## ۴- د چاربیتي مشهور استاذان:


د چاربیتي ډېر لوی
لوی شاعران تېر شوي دي په دغو کښې میرا، توکل،
نورالدین، قمر دین، محمد جي، نور محمد، صالح محمد، محمد ایوب
خان، احمد دین طالب شامل دي۔ خو د چاربیتي بابا عبدالواحد
ټکلدار ته وئیلی کېږي۔

## ۵- لیکلي شوي چاربیتي او د دغو شاعران:

قاضي عطاء الله
خپل کتاب د پښتو تاریخ کښې تاریخي چاربیتي لیکلي دي۔
نصر الله خان نصر د نورالدین چاربیتي شائع کړې دي۔ محمد
حسن ضمیر د ۵۵ عوامي شاعرانو 100 چاربیتي شائع کړې دي۔
همیش خلیل صیب د چاربیتي اوسني شاعران او پخواني شاعران په
نوم کتاب لیکلی دی۔

## ۶- د چاربیتي ساخت:

چاربیته کښې، کله چې ئې د
نوم نه ظاهره ده، څلور بېتونه وي، د سر شعر نه پس دري دري
مصرعې وي او څلورمه مصرعه ئې د سر په وزن وي۔



## ۷- د چاربيتي قسمونه:

د چاربيتي ډېر قسمونه دي.

ځينې چاربيتې د بحر او وزن د قاعدې حواله سره ځيله وضع بيلوي. ځينې د سر او بندونو د جوړښت او ساخت په بنياد بيلګوټ لري او ځينې چاربيتې د سر يعني مطلعې سره د بندونو د تعلق، قافيو او جوړونو د طرز په حساب ځانګړتيا لري. ځينې چاربيتو ته نومونه ورکړے شوي دي او ځينې ته نه. دغه قسمونو کښې مونږ سره زنځيري چاربيته، ستاري چاربيته، د احمد دين طالب چاربيته، نيمګړې چاربيته، سوره چاربيته وغيره.

### ١- زنځيري چاربيته:

زنځيري چاربيته کښې يوه لړۍ ته (نيمه مصرعه) د 7 سيلابونو وي (وګله 6 هم وي) دې پسې بله يوه لړۍ وي چې دغه بحر او وزن کښې وي. دې دوه لړو پسې بيا بله پوره مصرعه وي. هم دغه وزن کښې وي څو بحر کښې د 14 څپو وي (وګله 15 هم شي) دغه پوره مصرعې پسې بيا بله يوه لړۍ وي دغه پوره مصرعې سره هم قافيه وي. دا لړۍ په بحر کښې د دغه ولومبۍ لړۍ هومره وي.

### د زنځيري چاربيتې نمونه:

(الف) بنګلې شال په سر زما

(ب) بنګلې پېرې ګلونه دي



Scanned with CamScanner

ښکلې ښکلې خلک مې ولیدل ډیر ښکلي دے

ښکلې ټنګ ټکور دے (ج)

ښکلې شال زرین لرم

ښکلې سپین جبین لرم

ښکلې لو پېزوان دے په سرو شونډو مقرر زما

ښکلې شال په سر زما (الف)

ښکلې زړه لوسه ساتم

ښکلې دنداسه ساتم

ښکلې د مترې مې دواړه سرې شونډې لالونه دي

ښکلې پېرې ګلونه دي (ب)

ښکلې یم باور وکړه

ما ته لږ نظر وکړه

ښکلې مې اوریل دے الوګل په وړو ګوتو ر دے

ښکلې ټنګ ټکور دے (ج)

## ۲- سندري چاربیتي (رباعي وزن او بحر وال):

دي چاربیتي

لنډې څه پېرده او ستر شان وي څکه ورته سندري چاربیته وائي. دا چاربیتي په لوړه ~~[illegible]~~ لوړه کښې بحر کښې دي. هره لوړه کښې لو سیلاب (څلورم) درولډ دے. دا بحر او طرز د رباعي دے. هر سیټ د 7 سیلابونو وي. د بحر د سیمو نو دغه شکل د نورو لوړو چاربیتونه جدا دے.

## د سندري چاربیتي نمونه:

واد خیبر له کالو    مورچې د جنګ لري کا

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

یا د پښتون په قانون — لوړې نه زنګ لري کا

مینځن، ارټ اوکالمۍ — زاړه اوزار ورکیږي
ریکارډ دېل دیا جي — ستا یکه زار ورکیږي
منګې رباب د هیري — سره د چنګ لري کا
یا د پښتون په قانون — لوړې نه زنګ لري کا

## ۳- د احمد دین طالب چاربیته:

د احمد دین طالب

چاربیته څه خاص لوم نه لري ـ د چاربیته د بحر د بیت لو ځدا او ناویانه وضع لري یعني د دري دري سیلابونو بیت دے او هر دریم سیلاب دروند دے ـ د دې نیلو ئي لو ځدا انداز جوړیږي ـ

**نمونه:**

سپین لېښر د دلبر دے سحر تازه
څوکیدار یې بېدار زلفې مارزانګي

سپین رخسار د دلدار یې بهار دي تل
د ځه باغ د فراغ دے د زاغ وزغن
په دربار څوکیدار ما سردار کړه اول
غم چراغ زړه سواغ ناورې چاغ وچغن
زړه بیمار د ګلزار نا قرار یم بلبل
زور کړه کاغ لوړ کلاغ بر دماغ کړې ګکفن

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

M T W T F S DATE:

ما لوګر مقرر کړو په دروازه
سپین لښکر د دلبر دے سر تازه
څه ښکار چې دوباره کړي چغار بانګې
خوګېدار لېري بېدار زلفې مار زانګې

## ۴- نیمګړې چاربیته:

دا چاربیتې هم واضحه خدوخال لري، سر کښې او بندونو کښې د مصرعو شمېره نیمې نیمې لږ لږ لري او هم په دې وجه ورته نیمګړې چاربیته وائي، دا ډول چاربیتې په دوه دوه بندونو او ورلو لو کښې هم وي۔

## د نیمګړې چاربیتې نمونه:

خورې ورې دې زلفې په رخسار ښې شي
ورکوې د عطرو نم
بلبل ورپسې تل سر په چغار ښې شي
زړه مې شو قلم قلم
خورې ورې دې زلفې په شمال کړلې نن
خوشبوئي شوه قاف تر قافه
غنچې د باغیچې خزان پائمال کړلې نن
د ښائست دې نه کړي لافه
جګرې د عاشقانو دې بدحال کړلې نن
چې ښکاره شوې له غلافه
قاف ماته د منصور عمې په دار ښې شي
زړه مې ستا ستم

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

## ۵ - سوره چاربيته:

سوره چاربيته کښې د سر څلور مصرعې وي - جوړه جوړه هم قافيه وي. يو بحر او يو وزن کښې وي. بندونو کښې آخر کې د سر سره د جوړ مصرعې صرف دوه راوړے شي د څه دوه د جوړ مصرعو کښې يو د چاربيتې د سر د ولمومين جوړې سره هم قافيه کړے شي او بل د سر د دويمې جوړې سره هم قافيه کړے شي

## د سوره چاربيتې نمونه:

سر

د غم عمر مې تېر پس يې بيا له پاره
يقين نه دے چې مې اوج د ستوري کوم شي
د مرض احوال مې څوک وايه د بيا ره
که زما جانان زما سره همدم شي

بند

د غم عمر مې تر تېره صدى تېر کړو
له دپاسه پېرې سبوا او پښت کلونه
بېلتانه معاش زما زهر کنډېر کړو
دا تلخۍ مې نه له خلې څې نه نالونه
که عمر څو مې صبر جال له زړه چاپېر کړو
رانه غواړي ليلا! ستا زلفې ولونه

جوړه

په صبح رنګ په دې لاړ نه شم له دړه
نه مې سر د عاشقۍ په تېغ قلم شي

MTWTFS DATE:

## ۶- کسره بند چاربیته:

کسره بند چاربیته کښې هم سر کښې څلور مصرعې وي خو د دې بند ولو کښې هم ټولې مصرعې جوړه جوړه او کسره کسره سره خپلو کښې هم قافیه وي۔

### د کسره بند چاربیتې نمونه:

(سر)

ورېږي يم لکه باران پکښې
کمر څې غازي افسر زمان پکښې
مینه پتنګ لري د ناره سره
خیژي لمبې د شالیماره سره

(بند)

خیژي لمبې د کمر زغار پکښې
راځي دلوپو د لډو کار پکښې
ټول د لوېک سره کمر نیسه لګوي
ټول په مورچه کښې د ازمېښ لګوي
چا ایښې کوټې په مارتر باندې
بادرنې چلېږي په انسه باندې

(اجوله)

راغله لموکره عشو سکان پکښې
ورېږي يم لکه باران پکښې
مومن لکه وهي کفار سره
خیژي لمبې د شالیمار سره

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

## ۷- دوه کم بنزه چاربیته:

دوه کم بنزي هغه
چاربیتي دي چې بندونو کښې ئې دوه مصرعې وي.
دې مصرعو سره ټولۍ هم وي.

**نمونه:**

کله وي تیاره، کله وي رڼا کله سلي پکښې
کله وي ګلې پکښې کله وي باران

کله وي وربخ، کله په ګلو کښې غنچې وینم
کله بیم یا چې وینم
کله وي ځنګل، کله غنم، کله تیلي پکښې
کله وي ګلې پکښې، کله وي باران

## ۸- چاربیته او د چاربیتي د قسمونو حواله:

د تهکیدار په کتاب
چې همیش خلیل صاحب چې کوم لیک کړې دې او هغې
کښې ئې د "د پښتونخوا ښار و بهار" کتاب یعنې چیمبرز دار
مستر بیتم په حواله کومې چاربیتې او قسمونه بیان کړي دي لو
هغه ټولې په دې بحث کښې شامل دي او بیان کړې شوي

## ۹- د کلام خلاصه:

د ټول کلام خلاصه څه دا رنګ ده چې
چاربیته په اولسي ادب کښې د ټپې نه پس اهم مقام لري. په
دې کښې د پښتون قوم د ژوند هر اړخ بیان کړې شوې دي او دا به
لو نهه پورې صنف دی ـ څه سینه په سینه منتقل شوې ده او څه
په کتابي شکل کښې هم موجود دی. نیز د اولسي ادب شان ګڼلې شي

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner